پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۷/۳۰

# لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

## څلورویشتمه برخه

## د لنډیو بڼ ته د نویو کلماتو راتګ

په لنډیو کې د نورو ژبو د لغاتو د کارونې په برخه کې باید و ویل شي چې په سیاسي نظامي برخه کې ځینې کلمات را اخستل شوي دي چې د هغو له پاره ښایي په پښتو ژبه کې معادل نه وي، نو په هماغه بڼه کارول شوی دی لکه «سکر» چې زموږ د وطني جګړې په اوږدو کې یې په زرګونو ځلې زموږ پر خلکوکورونو، کلو او ښارونو باندې کارول شوی دی.
په هیواد او خلکو باندې د څلورو لسیزو په اوږدو کې چې کومې نا خوالې راغلې او کومې غمیزې یې رامنځ ته کړې دي او د خلکو او ټولنې په ژوند باندې څه راغلل، په لنډیو کې هم د شکل له مخې او هم د محتوا له مخې اړین بدلونونه راغلي دي، دغه یې څو بیلګې دي:

خاونده بیا دسکر غږشـــــو
ورسره سم بیا کابـــل جان ژړا کـــویـــــنـــه
چې وحدتیان دوستمیان یوشول
بیا به تالا کړي کورا کور زلمي سرونه
کوردې سپیره شه توپکیه
چې دې سپیره کړل دکابل شینکي باغونه
پرکابل ږیرې راغلې خدایه
بیا به تالاکړي توریکي هسک اورمیــــړونه
دریورو لښکر راغي
ور ته قتلیږي لورا لور زلمي سرونه
په رنیوکوري ورته ژاړي
کابلیان نه شي خلاصوي زلمي سرونه

دغه راز د ژوند په نورو ډګرونو کې هم چې کوم بدلونونه راغلي دي، له ورایه ښکاري چې په لنډیو کې یې هم پراخ انعکاس موندلی دی چې تر ټولو ښه بیلګه یې د بیلابیلو مجبوریتونو له امله د کلي، کور او وطن پریښودل او مهاجرت ته مخه کول دي. د لنډیو دغو څو بیلګو ته پام وکړئ:

کابله لاړي دبل چا شوی
دناچارۍ شپې په بل ملک سبا کومه
خاونده دا به دې رضا وي
چې دځوانۍ عمرماسکوکې تیرومه
خاونده دا به دې رضا وي
چې باقي عمراروپا کې تیرومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ډېرې داسې لنډۍ شته چې که د بحث مجلس ورته پرانستل شي، نو په يوه لنډۍ باندې د هغې لنډۍ د تورو په تلفظ باندې او د لنډۍ د ويلو په اټکلي زمان او چاپېريال باندې کيدای شي اوږده بحثونه وشي،
په لنډيو کې د پام وړ نوو تورو په کارولو باندې د بحث بله ښه بېلګه د ښاغلي لطيف ياد هغه وړه مقاله ده چې په يوې لنډۍ کې يې د کارول شوي توري«انجروت» په باب ليکلې ده او په خپله فيسبوک پاڼه کې يې خپره کړېده:

که انجروت شي وبه يې نه خورم
د چا احسان منلی نه شم مردې شمه

دا هم د ښاغلي ډاکتر لطيف ياد د مقالې يوه برخه ده:

«په پښتنو اوپښتو لنډيو کې دانجروت دکلمې کارونه
ابله ورځ دفيسبوک يوه ښاغلي ملګري زمانه پوښتنه وکړه چې ته خو دپښتو لغاتوپه اړوند څيړنې کوې دا انجروت بيا څه ته وايي. ما هغه شيبه ورته دانجروتو په اړوند لږ شانته معلومات ورکړل، خو دا دی د دوستانو سره دغه کلمه په لږ نور تفصيل سره څېړم.
پښتانه په خپلو ورځنيو خبرو اترو او محاوره کې د انجروت کلمه کاروي او دا ما په خپله هم اوريدلې ده چې وايي چې پلانکی شی يا څيز انجروت هم وګرځي په والله که يې ر اباندې وخورې،همداراز دانجروت په اړوند په پښتو کې لنډۍ (ټپې) هم شته.
اوس به راشو او وبه ګورو چې انجروت څه ته وايي؟ انجروت چې علمي او طبي نوم يې په لاتين کې Ferula assa دی په طبي يوناني کتابونو د انزروت او عنزروت په بنو هم راغلی دی يوه اغزي لرونکي ونه ده چې سريښناکه ماده ترې راوځي چې خوند يې تريخ او لږ څه په تريخوالي کې خوږ وي چې دغه سريښناکه ماده د انجروتو په نامه يا ديږي. انجروت ډير ډولونه لري چې ډيرښه ډول يې سپين رنګه انجروت دي.
د انجروت يا انزروت ونه يوه نايابه ونه ده او دغه سريښناکه ماده چې ترې را وځي ډيره قيمتي وي او د طبي له پلوه يې خاصيت ګرم دی او د ډيرو ناروغيو علاج پرې کيږي چې دغه ناروغۍ عبارت دی: د ملا او مفاصلو درد، د غوږونو درد، بلغمو، د خيټې د چينجيانو د وژلو، د چاغوالي د مخنيوي او هم د جنسي څواک د پياوړتيا له پاره ورنه ګټه اخيستل کيږي.
داهم په پښتو لنډيو کې د انجروت د کلمې يوه بېلګه:

که انجروت شي وبه يې نه خورم
د چا احسان منلی نه شم مردې شمه»

دغه راز په لنډيو کې کله، کله داسې نادر توري تر سترګو کيږي چې د مانا په يوهيدنه يې د هر لوستونکي يا اوريدونکي سر نه خلاصيږي او ځانته څيړنه او مطالعه غواړي. يو ښه مثال يې د «مارګله» کلمه ده چې کله کله په لنډيو کې تر سترګو شوی دی. دغو څو لنډيو ته پام وکړئ:

يار به مې بل ملک ته پرې نږدم
ورته پيزوان دمارګلې په کنډو ږدمه

تر مارګلې درسره ځمه
په هندوستان کې دې په خدای سپارم مينه

ساتلی بازمې رانه لاړه
په مارګله به ورته دام دزلفو ږدمه

د همدې يوه توري د مانا له پاره به ښاغلي ډاکتر لطيف ياد څومره مطالعه کړې وي چې دا پته يې لګولې ده چې مار ګله په کومه سيمه کې موقعيت لري او... دا د مار ګلې په باب د ښاغلي ډاکتر ياد د مالوماتو لنډيز دی:
«مارګله او په پښتو ټپو( لنډيو) کې يې يادونه:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

مارګله یوه غرنۍ سیمه ده چې د پاکستان د پایتخت (پلازمیینې) اسلام آباد په شما لې برخه کې پرته ده چې پخپله اسلام آباد هم د مارګلې په لمنه کې موقعیت لري. مارګله په اصل کې د هیمالیا د غرونو یوه لړۍ ده. د مارګلې غرنۍ سیمه ( ۱۲۶۰۵) هکټاره ده چې د مري سیمه هم پکې راځي.
د مارګلې سیمه د ډیرو غرونو او وادیو نه جوړه شوې ده چې اسلام آباد هم پکې شامل دی. پخوا په تاریخي کتابونو کې د اوسني اسلام آبا سیمې ته پټوهار( پوټوهار) ویل کیده او تر هغې د مخه د چورپور په نامه یادیده.
د مارګلې په اړوند ځینې اسطورې هم شته چې ځینې په دې اند دي چې مارګله ځکه ورته وایی چې دې سیمې ډیر ماران درلودل.
مارګله د ښکلي طبیعت او غرونو په وجه رنګارنګ بوټي، ګلان او ونې لري او همدا راز ډول، ډول وحشي ځناور او مارغان هم پکې شته.
د مارګلې مشهور ځایونه دامن کوه، پیر سوهاوه، ګو کینا، لوهي ډنډي،شاه الله دته او د مارګلې نیشنل پارک دی. په مارګله کې د غره لوړه څوکه د تله چروني په نامه یادیږي چې ۱۶۰۴ متره لوړه ده.
په پښتني کلتور او تاریخ کې هم د مارګلې د نوم ډیره یادونه شوې ده. په پخوا وختونو کې به چې پښتانه هندوستان ته تلل نو د مارګلې پر لاره به یې خپل یون (سفر) کاوه او ان د پښتو په ټپو(لنډیو) کې هم د مارګلې د ښکلي سیمې یادونه شوې ده چې زه به یې تاسو ته دلته یو څو پښتو ټپې (لنډۍ) د بیلګې په توګه راوړمه
:

۱ - ساتلی باز مې را نه لاړه
په مارګله به ور ته دام د زلفو ږدمه

په دې بله ټپه کې ګورو چې جانان خپل یو مساپر چې هندوستان ته ځي تر مارګلې پورې بدرګه کوي او نور یې په خدای سپاري، لکه چې وایی:

۲ - تر مارګلې در سره ځمه
په هندوستان کې دې په خدای سپارم مینه

په دریمه ټپه کې ګورو چې خپل جانان د هندوستان د تلو نه منعه کوي او وایي:

۳ -یار به مې بل ملک ته پرې نږدم
ور ته پیزوان د مارګلې په کندو ږدمه»
د څلورویشتمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ